NEW JERSEY OFFICE OF NEW AMERICANS

## اوه څيزونه چې تاسو بايد تر خپلې روغتيايي معايناتو مخکې پرې پوه شئ

### 1. روغتيايي معاينات (screening) څه شی دی؟

روغتيايي معاينات د کورنۍ د ټولو غړو د فزيکي او احساساتي روغتيا يوه جامعه ازموينه ده او دغه ازموينه په متحده ایالاتو کې ستاسو د بيا ميشتېدنې د برخې په توګه اړينه ده. نوموړي معاينات په يوه ځانګړي کلينيک کې ترسره کېږي او پر شرايطو د برابرو روغتيايی خدمتونو د چمتو کوونکو لخوا ترسره کيږي.

### 2. څنګه هلته ورسيږم؟

ستاسو د قضيي مدير به له تاسو او ستاسو له کورنۍ سره کار وکړي څو غوره ټرانسپورټ با امنه کړي.

### 3. کورنۍ مې د ښوونځي عمر ماشومان لري. زه بايد په خپلو روغتيايي معايناتو کې څه وکړم؟

پر طبي معايناتو سربېره ښوونځي ته ستاسو د ماشوم د لېږلو لپاره به د روغ ماشوم د کتلو يا چيک کولو نړيواله فورمه ډکه شي او د هغوی واکسين به بشپړ شي چې په دې ترتيب ژر تر ژره نوملیکنه وکولی شي. د ښوونځي دغه فورمې به يوازې هغه مهال شتون ولري کله چې تاسو ټوله ازموينه بشپړه کړې وي چې له 1-3 ليدنو کې ترسره کېدی شي.

### 4. ولې د روغتيايي معايناتو بشپړولو ته اړتيا لرئ؟

- د دې لپاره چې ډاډمنولو لپاره ورته اړتيا لرئ چې *تاسو، ستاسو کورنۍ او ټولنه* مو خوندي او روغ دي.
- *اړيني درملنې او درملو ته* د لاسرسي لپاره.
- *تاسو د اړينو طبي اسنادو د چمتو کولو لپاره.*

### 5. څنګه د روغتيايی معايناتو لپاره چمتووالی ونيسئ؟

- د کورنۍ د هر غړي *موجود اسناد راوړئ لکه: I94s، پاسپورټونه، طبي سوابق، له کور څخه د واکسينو معلومات او داسې نور معرفي کوونکي اسناد چې تاسو يې ممکن ولرئ.*
- *ناشتې، اوبه، اضافي پمپرونه يا نور هغه څه چې د انتظار پر مهال ورته اړتيا لرئ، بسته کړئ.* ليدژمنې ښايي څو ساعته وخت ونيسي، ځکه چې ډاکټران به هڅه وکړي چې ستاسو ټوله کورنۍ په يوه ورځ کې وګوري څو د دوی تاسيساتو ته د ستاسو د ورتګ شمېر محدود کړي.
- *له نورو ځنډونو يا لغوه کيدو څخه د مخنيوي لپاره پر وخت راشئ.* په متحده ایالاتو کې د ليدژمنې وختونه خورا سخت دي.
- که بيړنۍ يا عاجله اړتيا رامنځته شي، په *مهربانۍ سره ژر تر ژره خپل د قضيي مدير ته خبر ورکړئ که تاسو ليدژمنې ته د تګ توان نه لرئ.*

### 6. تاسو بايد په روغتيايی معايناتو کې د څه شي تمه وکړئ؟

- تاسو به لومړی *په مخکيني ميز کې د کارکوونکو له شخص سره چيک ان يعنې د حاضری خبر ورکړئ.*
- تاسو به بيا *په انتظار خونه کې کښېنئ* څو د ډاکټر لخوا وغوښتل شئ. مهرباني وکړئ له بيړني حالت پرته مه ځئ. که د حمام يا تشناب کارولو ته اړتيا لرئ، د موقعيت له پوښتلو يې ډډه مه کوئ. مخکينی ميز ته خبر ورکړئ که تاسو بايد بهر قدم ووهئ.
- تاسو ته به د خپل نوبت پر مهال د *شخصي ازموينې خونې ته د تګ لارښوونه* وشي چې دا هغه ځای چې ډاکټر به پکې د کورنۍ ټول غړي معاينه کړي.
- د روغتيايي پاملرنې چمتو کوونکی به د معاينې په بهير فزيکي معاينه ترسره کړي او له تاسو به د فزيکي او احساساتي روغتيا په اړه ځينې پوښتنې وکړي.
- د روغتيايي پاملرنې چمتو کوونکی به اړ وي چې د کورنۍ د هر غړي پر *بشپړ نوم، د زيږون نيټې او پتې باندې* پوه شي. مهرباني وکړئ ډاډمن شئ چې تاسو دغه معلومات په ليکلې بڼه لرئ.
- *په مهربانۍ سره په ياد ولرئ چې ټول معاينات د وينې ټسټ ته اړتيا لري.* دغه ټسټ به يا په کلينيک کې بشپړ شي يا به په بېل ځای کې وټاکل شي.

NEW JERSEY OFFICE OF NEW AMERICANS

- ډېرى ازمويني همداراز د غايطه موادو نموني ته اړتيا لري. تاسو ممكن له قطي او په دې هکله له لارښوونو سره کور ته واستول شئ چې څنګه د خپلو غايطه موادو نمونه راټوله کړئ او ستاسو په تعقيبي ليدڅمنه کې يې کلينيک ته بيرته ورکړئ.
- مهرباني وکړئ ډاډمن شئ چې دغه ټستونه بشپړ کړئ او راتلونکي تعقيبي ليدڅمني ته پر وخت ورشئ. ستاسو بشپړ روغتيايي معاينات معمولا په دوو يا دريو ليدنو کې بشپړيږي، نو ستاسو راتلونکی ليدڅمني خورا مهمي دي.
- تاسو د خپلې ازمويني په بشپړېدو سره کولی شئ د خپلو سوابقو لپاره ستاسو د طبي معايناتو د فورمې *يوه چاپ شوې کاپي وغواړئ*.تاسو به تر خپلو تعقيبي ليدنو او د ازمويني تر بشپړېدو وروسته نور هر ډول اړين اسناد په ښوونځي کې ستاسو د ماشومانو د شاملېدو لپاره د اړينو طبي اسناد په ګډون ترلاسه کړئ.

## 7. د روغتيايي معايناتو پر مهال ستاسو حقونه کوم دي؟

- د کورنۍ هر غړی د *مساوي مسلکي پاملرني او خدمتونو* حق لري.
- تاسو د شفاهي ورپيا ژباړې د *خدمتونو* حق لرئ. دغه خدمتونه معمولاً د ټليفون له لارې دي.
- تاسو د *معايناتو پر مهال له هر ډول خدمتونو څخه د انکار حق لرئ*. طبي معاينات ستاسو د روغتيا او هوساينې په پام کې نيولو سره ډيزاين شوي، خو تاسو د ناروغ په توګه د هر ډول طبي خدمتونو د رضايت يا انکار حق لرئ.
- تاسو د *يوه ځانګړي جنس د ډاکټر لخوا د ليدو لپاره د خپلې هيلې د څرګندولو* حق لرئ. تر ليدڅمني <u>مخکې</u> د قضيې له خپل مدير څخه پوښتنه وکړئ. دوی د دغې چارې د تنظيمولو د هڅې کولو لپاره له کلينيک سره اړيکه نيولی شي.
- تاسو حق لرئ چې د ازمويني خوني ته يو *ملګری له ځانه سره* راولئ چې د ملګرو په تړاو د کلينيک له مقرراتو سره سم وي. والدين تل له خپلو ماشومانو سره ملتيا کولی شي.
- تاسو د محرميت حق لرئ چې د متحده اياالاتو په HIPAA نامه قانون له مخې پوښل شوی. ستاسو ټول شخصي او روغتيايي معلومات به محرم پاتې شي

.